# نازوانا

www.libtool.com.cn



No. 6

www.libtool.com.cn

**پاملرنه!** کتابونه زموږ او ستاسې تل پاتې ملګري دي،
نو د کتابونو ښه ساتنه زموږ د ټولو دنده ده.

# یادونه

www.libtool.com.cn

دشانتي رضاکاره ټولنه وياړي چې د خپلو نورو ټولنيزو او ښوونيزو خدمتونو په لړ کې د افغان ماشومانو د ذهني او اخلاقي سالمې ودې لپاره د کيسه ايزو کتابونو په چاپولو پيل کوي.


داچې دکيسو ويل دماشومانو (کمکيانو) په ذهني وده ، اخلاقي روزنه داستعدادونو په غوړېدو، دلغتونو دزېرمې په پياوړتيا او دهغوی د معلوماتو په پراختياکې خورا ارزښت لري ، نو ځکه مونږ لويان ، والدين او ښوونکي هڅوو او سپارښتنه کووچې ماشومانو ته وخت په وخت اخلاقي او روزنيزې کيسې ووايې.

دیادولو وړه ده چې زمونږه چمتو شوې کيسې ټولې افغاني کيسې دي او په افغاني ټولنه کې د پخوا څخه موجودې او تر اوسه دخلکو په منځ کې په دودیزه توګه ويل کيږي.

دادی په دې لړکې د (نازو انا) کيسه په انځوريزه بڼه نازولو ماشومانو ته وړاندې کوو. هيله ده چې ګلالي ماشومان دغه کيسه په مينه ، مينه ولولي ، خوند اوګټه ترې واخلي. مونږ په ګرانو کمکيانو ته چې دسبا ټولنې مشران دي دغه ډول نورې روزنيزې کيسې هم ډالۍ کړو.

په مينه
دشانتي رضاکاره ټولنه
(SVA)


PROPERTY OF ARIC KABUL
PROPERTY OF ACKU 12596



www.libtool.com.cn

ډېر کلونه پخوا د افغانانو دیوقامي مشرپه کور کې یوه نجلۍ وزیږېده ،
پلارېې پرې نازو نوم کیښنود.

www.libtool.com.cn



نازو ډېره هوښياره نجلۍ وه نو ځکه يې په شپږ کلنۍ کې د ليک او لوست په زده کړه پيل وکړ.



www.libtool.com.cn

په ځوکلونوکې يې خپلې زده کړې پای ته
ورسولې او د نازو نه يوه پوهه ، نېکه
او زړه سوانده ښځه جوړه شوه .




www.libtool.com.cn


www.libtool.com.cn

هغې تل دبې وزله خلکو سره مرسته کوله او...

نازو به د اړو خلکو سره هم مرستې کولې او خلک د هغې سخاوت ته حیران پاتې وو.



www.libtool.com.cn

بربندوته به يې کالي ورکول .



www.libtool.com.cn

نازو نورو نجونو ته لیک لوست هم زده کاوه
او تل يې نجونې زده کړې ته هڅولې.

www.libtool.com.cn




www.libtool.com.cn

نازو ډېره زړه وره ښځه وه ، يوه شپه چې دهغې پلار او مشر ورور په کورکې نه وو.



www.libtool.com.cn

غلو ددوی په کور داړه واچوله .

نازو دخپلو نورو ورونو سره يو ځای خپله کلاله تاړاکه وژغورله .



www.libtool.com.cn

نازو به ښځې د علم زده کړې ته هڅولې او ویل به یې :
د علم زده کړه په نارینه او ښځه دواړو فرض ده .




www.libtool.com.cn

نازو شاعره هم وه .



www.libtool.com.cn

کله چې نازو دکندهار په ولایت کې د یو ځوان سره واده وکړ،



www.libtool.com.cn



www.libtool.com.cn

د واده نه وروسته خدای پاک هغې ته زوی ورکړ او میرویس نوم یې پرې کېښود.

نازو په خپل زوی زده کړه وکړه.



www.libtool.com.cn

تل به يې ميرويس ته ويل : زويه! تا ددې لپاره لويوم چې خپلو خلكو او وطن ته خدمت وكړې.


www.libtool.com.cn

نازو دخپل زوی نه دخلکو
او هیواد خدمتګار جوړ کړ،



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ARIC KABUL

پوښتنې :

۱ـ نازووڅنګه ښځه وه ؟

۲ـ نازوبه تل څه کارونه کول؟

۳ـ د نازو د زوی نوم څه و؟

۴ـ ولی خلك نازو ته نازو انا وایی؟

www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU
12596

## د شانتي رضاکاره ټولنې پروګرام

خپرونکې اداره: د شانتي رضاکاره ټولنه (SVA)
د کتابتون څانګه د شانتي رضاکاره ټولنې کارکوونکي.

کتنپلاوی: حبیب الله زړه سواند (شینواری) پوهنیار عبدالوحید، پوهنیار عبدالرشید، پوهیالی علاوالدین، پوهیالی یار محمد، نقیب الله او استادیار محمد (کوچی)

د چاپ اجازه: د ښوونې او روزنې وزارت او ننګرهار د پوهنې ریاست

انځورګر: استاد حمید

د چاپ ځای: پبلک آرټ پریس، پیښور فون: ۲۱۲۵۸۹

د چاپ کال: ۲۰۰۴ - ۱۳۸۲

پته: د ښوونې او روزنې پوهنځي شاته، دوهمه کوڅه، دریم کور
د شانتي رضاکاره ټولنې دفتر، جلال آباد - افغانستان

د ستلایټ لمبر: ۰۰۸۷۳۷۶۱۹۳۳۵۴۷ د موبایل لمبر ۰۰۹۳۷۰-۲۲۲۴۱۴

د چاپ او نور ټول حقوق خپروونکي (SVA) ته خوندي دي

All rights reserved No part of this book may be reproduced
or transmitted in any form or by any means without
Permission from the publishers Copyright
© Shanti Volunteer Association (SVA).

Shanti
Volunteer
Association

www.libtool.com.cn



# NAZO ANA

Supported by: WCRP Women's Committee